# دَ ګلتیانو په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

١ ١ دَ پولوس له طرفه چه بنی آدمو نهٔ ټاکلے اَؤ نهٔ رسُول کړے دے، بلکه دَ عیسیٰ
مسیح اَؤ دَ پلار خُدائے له طرفه رسُول دے چه مسیح ئے دَ مړو نه بیا ژوندے کړو.
٢ زَهٔ اَؤ زما دَ ملګرو ټولئے چه اوس زما سره دی دَ ګلتیا ټولو جماعتُونو ته سلام
وائی.

٣ زمُونږ دَ پلار خُدائے اَؤ دَ مالِک عیسیٰ مسیح له طرفه دِ په تاسو فضل اَؤ سلامتی
وی،

٤ چا چه زمُونږ دَ ګُناهُونو دَ پاره خپل ځان قُربان کړو چه مُونږ دَ دے موجُوده بدے
زمانے نه بچ کړی، لکه چه زمُونږ دَ خُدائے اَؤ پلار رضا ده. ٥ دَ هغهٔ جلال دِ تل تر
تله وی! آمین.

## بل زیرے نِشته

٦ زَهٔ په دے خبره حیران یم چه تاسو دومره زر دَ هغه چا نه مخ اړوئ چا چه تاسو دَ
مسیح په فضل رابللی یئ، اَؤ اوس بل زیری پسے ځئ، ٧ اګر چه بل نهٔ دے. اَؤ
صرف دا نه، خو داسے څهٔ کسان شته چا چه په کوشِش سره دَ مسیح دَ زیری نه
ستاسو زړُونه تور کړی دی. ٨ خو که مُونږ په خپله یا دَ آسمان یوه فرښته هم دَ هغه
زیری نه سیوا چه مُونږ تاسو ته آؤرولے وو، څهٔ زیرے آؤرَوی، نو هغه دِ لعنتی وی! ٩
زَهٔ اوس هغه بیا وایم څهٔ چه مُونږ درته اول وئیلی وُو : که چرے څوک تاسو ته دَ
درسیدلی زیری نه دَ بل څهٔ زیرے آؤرَوی نو هغه دِ لعنتی وی!

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ آیا زۀ په دے وینا اِنسانان خوشحالوم که خُدائے؟ آیا زۀ تش اِنسان خوشحالوم؟
که چرے ما تر دے اِنسانان خوشحالولے نو بیا به زۀ دَ مسیح غُلام نۀ وم.

## پولوس څنګه رسُول شو

۱۱ زما ورُونړو! زۀ تاسو ته دا خبره صفا کوم چه کومُ زیرے چه ما درته آؤرَولے دے
هغه دَ بنی آدم جوړ کړے نۀ دے. ۱۲ ځکه چه هغه ما ته دَ چا اِنسان دَ طرفه نۀ دے
رارسیدلے اَؤ نۀ چا بنی آدم ما ته ښوولے دے، بلکه دَ کشف په معرفت دَ عیسیٰ مسیح
دَ طرفه شوے دے.

۱۳ نو تاسو زما دَ ژوندانۀ په حقله کله چه زۀ یهُودی وم آؤریدلی دی چه ما به دَ
خُدائے جماعت بے حده آزارولو اَؤ دَ هغۀ دَ تباه کولو کوشِش به مے کاوو. ۱۴ اَؤ زۀ
دَ یهُودیانو په عقیده کښے دَ خپل قوم دَ اکثرو همزولو نه ډیر سرګرم وم اَؤ دَ خپلو
مشرانو دَ روایاتو پابند وم.

۱۵ خو خُدائے چه زۀ دَ خپل پیدایښت نه دَ مور په ګیډه کښے غوره کړم اَؤ په خپل
فضل ئے راوبللم، هر کله چه دَ هغۀ دا رضا شوه ۱۶ چه خپل زوئے په ما کښے ظاهر
کړی دَ دے دَ پاره چه زۀ په غیرو یهُودیانو کښے دَ هغۀ زیرے خور کړم، نو نۀ خو ما دَ
اِنسان نه صلاح واخسته ۱۷ اَؤ نۀ په بیتُ المُقدس کښے هغوئ ته ورغلم څوک چه زما
نه آګاهو رسُولان وُو، بلکه سمدستی عربستان ته لاړم اَؤ دَ هغه ځائے نه دمشق ته
راستُون شوم. ۱۸ بیا درے کاله پس دَ پطروس سره دَ مُلاقات دَ پاره زۀ بیتُ المُقدس
ته لاړم اَؤ پنځلس ورځے مے ورسره تیرے کړے. ۱۹ خو ما دَ مالِک دَ ورور یعقُوب
نه بغیر دَ نورو رسُولانو سره ملاقات ونۀ کړو.

۲۰ کوُمے خبرے چه زۀ تاسو ته لیکم، خُدائے حاضر ناظر دے چه په دے کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیڅ دروغ نۀ وایم.

۲۱ دَ دے نه پس زَۀ شام اَؤ دَ کلکیه علاقو ته راغلم. ۲۲ اَؤ دَ یهودیه کُوم جماعتُونه
چه دَ مسیح وُو، زما دَ صُورت نه ناواقف وُو. ۲۳ خو تش دا به ئے آؤریدل چه ”چا چه
به مُونږ وړاندے ربړولو، هغه اوس دَ هغه دین زیرے ورکوی دَ کُوم په تباهئ پسے چه
وو.“ ۲۴ اَؤ هغوئ به زما په وجه دَ خُدائے ثنا وکړله.

## نورو رسُولانو پولوس رسول قبُول کړو

۲ ۱ څوارلس کاله پس زَۀ دَ برنبا سره بیا بیتُ المُقدس ته لاړم اَؤ تیطوس مے هم دَ
ځان سره بوتلو. ۲ اَؤ زما تلل دَ خُدائے دَ هدایت په مُطابق وُو، اَؤ دَ کُوم زیری چه زَۀ
په غیر یهُودیانو کښے اِعلان کوم، هغه مے هغوئ ته بیان کړو، خو هغو کسانو ته ځان
له لاړلم څوک چه دَ ځۀ مرتبے خاوندان دی دَ دے دَ پاره چه هسے نه چه زما دَ دے
وخت یا پخوانئ منډے تړړے بے فائدے شی. ۳ خو تیطوس هم څوک چه زما سره
وو اَؤ یُونانی دے، هغه په سُنتولو مجبُور نۀ کړے شو. ۴ خو ځنو دا وغوښتل اَؤ دا دَ
هغه دروغژنو ملګرو په سبب وشول څوک چه په غلا داخل شوی وُو اَؤ په پټه راننوتی
وُو، دَ دے دَ پاره چه هغه آزادی کُومه چه مُونږ ته دَ عیسیٰ مسیح په یووالی کښے
حاصله ده، دَ جاسُوسانو په طور معلُومه کړی اَؤ مُونږ بیا غُلامان کړی. ۵ دَ هغوئ
تابعداری مُونږ یو ساعت له هم ونۀ منله دَ دے دَ پاره چه دَ زیری رښتینوالے په تاسو
کښے قائم پاتے شی.

۶ اَؤ کُوم خلق چه دَ مرتبے خاوندان حسابیدل، هغه که هر څنګه چه وُو، زما ورسره
هیڅ کار نِشته ځکه چه خُدائے دَ هیچا طرفداری نۀ کوی، دَ هغوئ نه زما په زیری کښے
هیڅ زیاتوالے رانۀ غے. ۷ خو دَ دے برعکس هر کله چه هغوئ ولیدل چه ځۀ رنګ
یهُودیانو ته دَ زیری ورکولو کار پطروس ته حواله شو، دغه شان غیرو قومُونو ته زیرے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکول ما ته وسپارلے شو. ۸ ځکه چه خُدائے چه په پطروس کښے دَ یهُودیانو دَ
رسالت دَ پاره اثر وکړو، هغه هم دَ غیرو قومُونو دَ رسالت دَ پاره په ما کښے اثر وکړو.
۹ اَؤ هر کله چه هغوئ دا توفیق معلُوم کړو کُوم چه ما ته راکړے شوے وو نو
یعقُوب اَؤ پطروس اَؤ یوحنا ځوک چه دَ جماعت غړی ګڼلے شول، ما ته اَؤ برنبا ته
خپل ښئ لاس راکړو اَؤ ځان سره ئے شریک کړُو، دَ دے دَ پاره چه مُونږ غیرو قومُونو
ته لاړ شُو اَؤ هغوئ یهُودیانو ته. ۱۰ اَؤ تش دا قدر ئے راته ووئیل چه خواران یاد ساته،
ولے زهٔ پخپله دَ دغه کار په کوشِش کښے وم.

## په اَنطاکیه کښے دَ پولوس پطروس رټل

۱۱ خو کله چه پطروس اَنطاکیه ته راغے نو ما مخ په مخه دَ هغهٔ مُخالفت وکړو ځکه
چه هغه ملامت وو. ۱۲ ځکه چه دَ یعقُوب له طرف نه دَ یو څو سړو دَ راتلو نه وړُومبے
هغهٔ دَ غیرو یهُودیانو ورُونړو سره ډوډئ خوړه، خو چه هغوئ راغلل نو په ډډه شو ځکه
چه له هغوئ نه ویریدو ځوک چه غواړی چه غیر یهُودیان وروڼه هم سُنت شی. ۱۳ اَؤ
نورو یهُودی ورُونړو هم دَ هغهٔ په مرسته کښے ریاکاری راواخسته تر دے چه برنبا هم دَ
هغوئ سره په ریاکارئ کښے ملګرے شو. ۱۴ خو هر کله چه ما ولیدل چه هغوئ دَ
زیری دَ رښتینوالی په مُطابق په نیغه لار نهٔ ځی نو ما دَ ټولو په وړاندے پطروس ته ووئیل
چه "تهٔ چه یهُودی یئے دَ غیرو یهُودیانو په شان ژوند تیروے، نهٔ چه دَ یهُودیانو په شان،
نو بیا ولے غیر قومُونه دَ یهُودیانو په شان ژوند تیرولو ته مجبُوروَے؟"

## یهُودیان اَؤ غیر یهُودیان به دَ ایمان په وسیله بچ کیږی

۱۵ سره دَ دے چه مُونږ پیدائشی یهُودیان یُو اَؤ دَ ګُناه ګارو غیرو یهُودیانو نه نهٔ یُو، ۱۶
خو بیا هم په دے پوهیږُو چه سړے دَ شریعت په عملُونو نه، بلکه صرف په عیسیٰ مسیح
په ایمان راوړلو صادِق کیږی، نو په خپله مو هم په عیسیٰ مسیح ایمان راؤړو دَ دے دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاره چه مُونږ په مسيح باندے په ايمان راوړلو صادِق شُو، نۀ چه دَ شريعت په عملُونو،
ځکه چه دَ شريعت په عملُونو يو سړے هم صادِق کيدے نۀ شی. ١٧ اَؤ مُونږ ځوک چه
دَ مسيح په وسيله صادِق کيدل غواړُو، که په خپله گُناه گار شُو نو آيا دَ دے سبب مو
مسيح دے؟ هيڅ کله نه! ١٨ ځکه چه هغه څۀ چه ما ونړول که هغه بيا آباد کړم نو خپل
ځان په خپله گُناه گاروم. ١٩ زما مطلب دا دے چه تر څو چه دَ شريعت سوال دے
زۀ مړ شوم، هو شريعت زۀ مړ کړلم چه زۀ اوس دَ خُدائے دَ پاره ژوند تير کړم. ٢٠ زۀ
دَ مسيح سره په سولئ شوے يم اَؤ اوس زۀ ژوندے نۀ يم بلکه مسيح په ما کښے
ژوندے دے. اَؤ زۀ چه اوس کُوم ژوندُون لرم نو دَ خُدائے په زوئے په ايمان راوړلو
کښے ئے تيروم چا چه زما سره مينه کړے ده اَؤ خپل ځان ئے زما دَ خاطره ورکړو.
٢١ زۀ دَ خُدائے فضل رد کوم نه، ځکه چه که صداقت دَ شريعت په وسيله په لاس
راتلے نو بيا خو دَ مسيح مړ کيدل بے ځايه وُو!

## شريعت يا فضل

**٣** ١ اَئے نادانو گلتيانو! چا په تاسو جادُو وکړو؟ ستاسو خو لکه دَ سترگو په
وړاندے مسيح په سولئ وښوولے شو. ٢ زۀ دَ تاسو نه صرف دا تپوس کول غواړم
چه تاسو دَ شريعت په عملُونو رُوحُ القُدس ومُوندلو يا په زيرى دَ ايمان راوړلو په وسيله؟
٣ آيا تاسو دومره نادان يئ چه دَ رُوحُ القُدس په وسيله مو شروع کړه اَؤ اوس دَ خپلو
عملُونو په وسيله پُوره کول غواړئ څۀ؟ ٤ آيا دَ تاسو ټوله تجربه عبث شوه؟ خو يقيناً
چه نه! ٥ نو بيا خُدائے چه تاسو ته رُوحُ القُدس درکوى اَؤ په تاسو کښے مُعجزے
ښکاره کوى نو آيا هغه دَ شريعت په عملُونو داسے کوى يا دَ زيرى آؤريدلو اَؤ پړے
ايمان راوړلو په وسيله؟

٦ لکه چه اِبراهيم "په خُدائے ايمان راؤړو اَؤ دا دَ هغۀ دَ پاره په صداقت حساب شو،"
٧ نو پوهه شئ چه ځوک چه دَ ايمان خاوندان دى، هغوئ دَ اِبراهيم اَؤلاد دى. ٨ اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کتاب مُقدس دَ دے نه مخکښے خبر وو چه خُدائے به غیر یهُودیان په ایمان صادِق
کړی، نو دَ اول نه ئے اِبراهیم ته دا زیرے واؤرولو چه : ”ستا په وسیله به ټول قومُونه
برکت بیا مُومی.“ ۹ نو بیا څنګه چه اِبراهیم دَ ایمان راوړلو په وسیله برکت ومُوندو،
هم هغه شان هغوئ ټول چه دَ اِبراهیم غوندے ایمان لری، هغهٔ سره برکت بیا مُومی.

۱۰ خو څومره چه دَ شریعت په عملُونو توکل کوی، هغوئ ټول لعنتیان دی، لکه چه
صحیفے وائی چه : ”هر هغه څوک چه دَ شریعت په کتاب کښے لیکلی شوو په ټولو
خبرو عمل نهٔ کوی هغه لعنتی دے.“ ۱۱ اَؤ دا خبره ښکاره ده چه دَ شریعت په وسیله
هیڅوک دَ خُدائے په نِزد صادِق کیږی نه، لکه چه لیکلی دی چه : ”صادق به په ایمان
پائی.“ ۱۲ اَؤ دَ شریعت دَ ایمان سره هیڅ تعلق نِشته بلکه لیکلی دی چه : ”څوک چه په
شریعت عمل کوی هغه به دَ دے په سبب پائی.“

۱۳ مسیح مُونږ په بیعه واخستُو اَؤ دَ شریعت دَ لعنت نه ئے راخلاص کړلُو ځکه چه
هغه زمُونږ دَ پاره لعنتی شو، ځکه چه په صحیفه کښے لیکلی دی چه ”څوک چه په
لرګی ځوړند کړے شو هغه لعنتی دے.“ ۱۴ دا ځکه وشو دَ دے دَ پاره چه هغه برکت
چه خُدائے اِبراهیم ته دَ ورکولو وعده کړے وه، دَ مسیح عیسیٰ په وسیله غیر یهُودیانو ته
هم ورسی، اَؤ مُونږ دَ ایمان په وسیله هغه رُوحُ القُدس حاصل کړُو دَ کُوم چه خُدائے
وعده کړے ده.

## شریعت اَؤ وعده

۱۵ زما ورُونړو! زهٔ دَ مِثال په طور دا وایم چه سره دَ دے که دَ اِنسان وعده وی خو که
تصدیق ئے وشی نو څوک ئے منسُوخ نهٔ ګڼلی اَؤ نهٔ په کښے څوک څهٔ زیاتے کوی.
۱۶ نو خُدائے اِبراهیم اَؤ دَ هغهٔ دَ نسل سره هم وعدے وکړلے، اَؤ هغه دا نهٔ وائی چه
”دَ نسلُونو سره“ لکه چه دَ ډیرو دَ پاره وئیلے کیږی، بلکه څنګه چه دَ یو دَ پاره وئیلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی چه : ”ستا دَ نسل سره،“ نو هغه مسیح دے. ۱۷ زما مطلب دا دے چه دَ کُومے وعدے چه خُدائے تصدیق کړے وو، هغه څلور سوه اَؤ دیرش کاله پس شریعت منسُوخ کولے نهٔ شی په دے خیال چه هغه وعده بے فائدے وګڼی. ۱۸ که چرے میراث دَ شریعت په وسیله رسی نو دا بیا په وعده نهٔ دے، خو په هغه وعده وو کُومه چه خُدائے اِبراهیم ته دَ یوے بخښنے په طور ورکړے وه.

۱۹ نو بیا دَ شریعت څهٔ؟ شریعت څکه وروستو ورکړے شو چه دَ دے په وسیله ګُناه ظاهر شی تر څو چه دَ اِبراهیم دَ نسل راتلل جاری وی چا سره چه وعده شوے وه، اَؤ شریعت دَ فرښتو په وسیله دَ یو مینځګړی په لاس مُقرر کړے شو. ۲۰ اَؤ هر چرته چه دوه طرفونه وی نو مینځګړے پکاریږی، خو خُدائے یو دے.

## غُلامان اَؤ زامن

۲۱ نو آیا شریعت دَ خُدائے دَ وعدو خلاف دے؟ نه، هیڅ کله نه! که چرے داسے شریعت ورکړے شوے وے چه ژوند ئے ورکولے شوے نو بیا به صداقت دَ شریعت په وسیله وو. ۲۲ خو مُقدس کتاب وائی چه ټوله دُنیا دَ ګُناه په قبضه کښے ده، دَ دے دَ پاره چه دَ بخښنے وعده چه په عیسیٰ مسیح دَ ایمان راوړلو په وسیله هغه خلقو ته چه ایمان راؤړی ورکړے شی.

۲۳ دَ ایمان دَ راتلو نه مخکښے دَ شریعت دَ لاندے زمُونږ ساتنه کیده، اَؤ دَ هغه ایمان تر راتلو کُوم چه ظاهریدُونکے وو، مُونږ دَ هغهٔ پابند وُو. ۲۴ پس شریعت مسیح ته دَ رارسولو پورے زمُونږ ساتُونکے وو دَ دے دَ پاره چه مُونږ دَ ایمان په وسیله صادِق شُو.
۲۵ خو هر کله چه ایمان راغلے دے مُونږ نور دَ شریعت دَ لاندے نهٔ یُو.

۲۶ څکه چه تاسو ټول دَ هغه ایمان په وسیله کُوم چه په مسیح عیسیٰ دے، دَ خُدائے زامن یئ. ۲۷ اَؤ تاسو ټول هر څومره چه دَ مسیح په یووالی کښے بپتسمه شوی یئ،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه دَ لباس مسیح مو آغوستے دے. (۲۸) نۀ خو څوک په تاسو کښے اوس یهُودی دے
اَوْ نۀ غیر یهُودی، نۀ څوک غُلام دے اَوْ نۀ آزاد، نۀ څوک سړے دے اَوْ نۀ ښځه، ځکه
چه تاسو ټول دَ مسیح عیسیٰ په یووالی کښے یو یئ. (۲۹) اَوْ که چرے تاسو دَ مسیح یئ
نو دَ اِبراهیم دَ نسل نه یئ، اَوْ دغه شان دَ وعدے په مُطابق وارثان یئ.

۴ (۱) خو زَۀ دا وایم چه وارث تر څو چه نابالغه دے، اګر که دے دَ ټول جایداد
مالِک دے، په هغۀ اَوْ په غُلام کښے هیڅ فرق نۀ وی. (۲) خو کُوم میعاد چه پلار مُقرر
کړے دے تر هغے وخته هغه دَ سرپرستانو اَوْ مُختارانو دَ اِختیار لاندے وی. (۳) دغه
شان مُونږ هم چه کله چه ماشُومان وُو نو دَ دُنیا دَ قوتُونو په پابندئ کښے دَ غُلامئ په
حالت کښے مو ژوند تیروو. (۴) خو هر کله چه نیټه پُوره شوه نو خُدائے خپل زوئے
راولیږلو چه دَ ښځے نه وزیږیدو اَوْ دَ شریعت دَ لاندے پیدا شو، (۵) دَ دے دَ پاره چه
څوک چه دَ شریعت دَ لاندے وُو، په بیعه واخلی اَوْ آزاد ئے کړی، چه مُونږ دَ خُدائے
زامن شُو.

(۶) اَوْ په دے سبب چه تاسو دَ خُدائے زامن یئ خُدائے دَ خپل زوئے رُوح زمُونږ
زړُونو ته راولیږلو کُوم چه دَ ”آبا“ یعنے ”اَئے پلاره“ غږ کوی. (۷) نو اوس نور تۀ غُلام
نۀ یئے بلکه زوئے یئے، اَوْ چه زوئے یئے نو دَ خُدائے وارث هم یئے.

## دَ پولوس دَ ګلتیانو دَ پاره فکر

(۸) خو هغه وخت تاسو دَ خُدائے نه ناخبر وئ اَوْ تاسو دَ هغه معبُودانو په غُلامئ
کښے وئ څوک چه خُدائے نۀ دی. (۹) خو اوس تاسو خُدائے وپیژندلو بلکه خُدائے
تاسو وپیژندلئ، نو بیا دَ هغه زړو اَوْ بے ځایه اولنو خبرو پلو څنګه ورګرزئ، چه دَ
هغوئ بیا غُلامی کول غواړئ؟ (۱۰) تاسو خاص ورځے، میاشتے اَوْ مُقرر وختُونه اَوْ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کالُونه منئ. ۱۱ زَۀ ستاسو په باب کښې ربړېږم چه هسې نه چه کُومه خوارى چه ما په تاسو کړې ده هغه عبث لاړه شى.

۱۲ زما ورُونړو! زَۀ درته منت کوم چه خپل ځانُونه زما په شان کړئ ځکه چه ما هم خپل ځان ستاسو په شان کړے دے. تاسو زما څۀ نقصان نۀ دے کړے. ۱۳ بلکه تاسو خبر يئ چه ما په اول ځل دَ ناجوړتيا په حالت کښې تاسو ته زيرے آؤرولے وو. ۱۴ اَؤ تاسو زما هغه جسمانى حالت کُوم چه ستاسو دَ آزمايش باعث وو، نۀ خو سپک وګڼلو، نۀ مو دَ هغۀ نه کرکه وکړه، اَؤ زَۀ مو دَ خُدائے فرښته وګڼلم لکه څنګه چه تاسو مسيح عيسىٰ ته په خپله هر کلے وئيلے وے. ۱۵ نو هغه وخت تاسو ډيره خوشحالى کړے وه، خو اوس هغه خوشحالى چرته ده؟ زَۀ ستاسو ګواه يم چه که کيدے شوے نو تاسو به خپلے سترګے راويستلے وے اَؤ ما ته به مو راکړے وے. ۱۶ نو آيا زَۀ دَ حق وئيلو په سبب ګنى ستاسو دُښمن شوے يم؟

۱۷ هغوئ تاسو دوستان خو جوړول غواړى خو په نيک نيتئ نه، بلکه هغوئ تاسو له ما نه جُدا کول غواړى دَ پاره دَ دے چه تاسو دَ هغوئ دَ دوستئ ليواله شئ. ۱۸ دا خو ښه خبره ده چه په ښه خبره کښې هر وخت دَ دوست جوړولو کوشِش وکړے شى، نۀ يواځے هغه وخت چه زَۀ ستاسو سره موجُود يم بلکه هغه وخت هم چه غير حاضر يم. ۱۹ ګرانو بچو! زَۀ يو ځل بيا ستاسو دَ پاره لکه د لنګانۀ په درد آخته يم، تر څو چه تاسو دَ مسيح په څير شوى نۀ يئ. ۲۰ زړۀ مے غواړى چه زَۀ دِ اوس تاسو سره وَئے، نو ما به بيا خپل انداز بدل کړے وَئے ځکه چه زَۀ ستاسو په باب کښې پريشان يم.

## دَ هاجره اَؤ دَ ساره مِثال

۲۱ اوس راته ووايئ، تاسو چه دَ شريعت دومره ليواله يئ، آيا دَ شريعت خبره نۀ آؤرئ څۀ؟ ۲۲ ځکه چه دا په کښې ليکلى دى چه دَ اِبراهيم دوه زامن وُو، يو له وينځے نه اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بل دَ آزادے ښځے نه. ۲۳ خو دَ وینځے زوئے په عام طور، اَؤ دَ آزادے زوئے دَ
خُدائے دَ لوظ په مُطابق پیدا شو. ۲۴ دا یو مِثال دے اَؤ دا دوه ښځے دَ دوؤ لوظُونو په
مِثال دی، یوه چه دَ سینا په غرۀ کړے شوے وه چه غُلامان پیدا کوی، اَؤ هاجره ئے
نُوم دے. ۲۵ اَؤ هاجره لکه دَ سینا غر په عربو کښے ده چه دَ موجوده بیتُ المُقدس په
مِثال دے ځکه چه هغه اَؤ دَ هغے بچی په غُلامئ کښے دی. ۲۶ خو دَ آسمانی بیتُ
المُقدس هغه آزاده ده څوک چه زمُونږ مور ده. ۲۷ ځکه چه صحیفے وائی چه :

"اَئے شنډے ښځے! خوشحالی وکړه!

چا چه چرے هم بچی نۀ دی راوړی.

دَ خوشحالئ چغے ووهه

چا چه دَ لنګانۀ دردُونه نۀ وُو زغملی.

ځکه چه پریښولے ښځه به

دَ هغے ښځے نه ډیر بچی راؤړی چه خاوند لری."

۲۸ نو اَئے زما ورُوڼو! تاسو دَ اِسحاق په شان دَ خُدائے دَ لوظ بچی یئ. ۲۹ خو لکه
څنګه چه په هغه ورځو کښے په عام طور پیدا شوی زوئے دَ خُدائے دَ رُوح په قُدرت
پیدا شوے زوئے وربړولو، دغه شان نن هم دے. ۳۰ خو صحیفے څۀ وائی چه :
"وینځه اَؤ دَ هغے زوئے وشړئ ځکه چه دَ وینځے زوئے به دَ آزادے دَ زوئے سره په
میراث کښے شریک نۀ شی." ۳۱ نو زما ورُوڼو! تاسو اوس پوهه شئ چه مُونږ دَ
وینځے بچی نۀ یُو، زمُونږ مور آزاده ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۵

۱ مسیح مُونږ دَ آزاد اوسیدلو دَ پاره آزاد کړی یُو، نو بیا پرے ټینګ اوسئ اَؤ بیا
غُلامان مهٔ جوړیږئ.

## دَ ایماندارانو آزادی

۲ ګورئ، زهٔ پولوس تاسو ته وایم چه که تاسو سُنت شئ نو دَ مسیح نه به تاسو ته هیڅ
فائده نهٔ وی. ۳ بلکه زهٔ په هر سُنت شوی سړی ګواهی ورکوم چه هغه به په ټول
شریعت عمل کوی. ۴ تاسو کُوم چه دَ شریعت په وسیله صادِق کیدل غواړئ، دَ
مسیح نه جُدا شوئ اَؤ دَ فضل نه پاتے شوئ. ۵ ځکه چه مُونږ دَ رُوحُ القُدس په
وسیله په ایمان سره به صادِقان ګرزولے شُو اَؤ مُونږ دَ اُمید سره دَ دے اِنتظار کوُو.
۶ اَؤ څوک چه دَ مسیح عیسیٰ سره یووالے لری، دَ هغهٔ نهٔ خو سُنتیدل څهٔ معنیٰ لری
اَؤ نهٔ نا سُنتیدل، خو دَ هغهٔ ایمان چه په مسیح دے، دَ فائدے خبره ده اَؤ ایمان دَ مینے
په وسیله ښکاری. ۷ تاسو خو ښه منډه وهله، ستاسو په لاره کښے چا رکاوټ جوړ
کړو چه دَ حق دَ منلو نه ایسار شوئ؟ ۸ دا لمسه ستاسو دَ رابلُونکی خُدائے له طرفه
نهٔ ده. ۹ یاد لرئ چه لږه خمبیره ټول آخښلی اوړهٔ خمبیره کړی. ۱۰ زما په مالِک
کښے په تاسو یقین دے چه تاسو به بل څهٔ خیال نهٔ کوئ اَؤ څوک چه تاسو ویروی، که
هغه هر څوک هم وی، سزا به مُومی.

۱۱ زما ورُونړو! که زهٔ تر اوسه دَ سُنتیدو پیغام ورکوم نو بیا تر اوسه عذابولے ولے
شوم؟ په هغه صُورت خو دَ عیسیٰ دَ سولئ دَ تیندک خبره هم نهٔ وه. ۱۲ زما خوښه خو
دا ده چه ستاسو راپاروُونکے دِ یواځے دَ سنتُولو نه، بلکه خپل ځان به نامرد کړے
وی!

۱۳ زما ورُونړو! تاسو دَ آزادئ دَ پاره رابللی شوی یئ، خو دا آزادی خپل جسمانی
شوقُونو دَ پاره مه اِستعمالوئ بلکه دَ مینے سره دَ یو بل خدمت کوئ. ۱۴ ځکه چه ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شریعت یواځې په دې حُکم څوړند دے، یعنې په دے چه "ته دَ خپل ګاونډی سره دَ
خپل ځان په شان مینه لره." ۱۵ خو که چرې تاسو یو بل چیچئ اَؤ خورئ نو پام
کوئ، تاسو دواړه به یو بل برباد کړئ.

## دَ رُوح میوه اَؤ دَ جِسم کارُونه

۱۶ زما مطلب دا دے چه که تاسو دَ خُدائے دَ رُوح په ښودلی لار روان یئ نو دا
جسمانی شوقُونه به هیڅ کله هم پُوره نهٔ کړئ. ۱۷ ځکه چه اِنسانی فطرت دَ خدائے دَ
روح په خلاف خواهش کوی اؤ دَ خدائے روح دَ انسانی فطرت په خلاف، اَؤ دا دَ یو بل
مُخالف دی دَ پاره دَ دے چه تاسو چه څهٔ کول غواړئ، هغه کولے نهٔ شئ. ۱۸ خو که
چرې تاسو دَ خُدائے دَ رُوح په هدایت روان یئ نو تاسو دَ شریعت ماتحت نهٔ یئ.

۱۹ اوس دَ انسانی فطرت کارُونه خو ښکاره دی، یعنې حرامکاری، ناپاکی، شهوت،
۲۰ بُت پرستی، جادُوګری، دُښمنی، جګړے، کینه، غُصه، بے اِتفاقی، جُدائی، بِدعتُونه،
۲۱ بُغض، نشے، ګډا نڅا اَؤ دَ دے په شان نور. دَ دے په باب کښے درته دَ وړاندے نه
وایم لکه څنګه چه مے اول درته وئیلی وُو چه داسے خلق به دَ خُدائے دَ بادشاهۍ
وارثان نهٔ وی.

۲۲ خو دَ خُدائے دَ رُوح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی، زغم، مهربانی، نیکی،
اِیمانداری، ۲۳ عاجزی اَؤ پرهیزګاری ده. دَ داسے کارُونو یو شریعت هم مُخالف نه
دے. ۲۴ اَؤ څوک چه دَ مسیح دی نو هغوئ خپل دَ اِنسانی فطرت ټول رغبتُونه اَؤ
خواهشُونه په سولئ خیژولی دی. ۲۵ که چرے مُونږ دَ خُدائے دَ رُوح په وسیله ژوندی
یُو نو دَ خُدائے دَ رُوح په مُطابق ژوند تیرول هم په کار دی. ۲۶ مُونږ دِ بے ځایه فخر
ونهٔ کړُو، نهٔ دِ یو بل تنګوُو اَؤ نهٔ دِ دَ یو بل نه سوزُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ يو بل بوج اُوچتوئ

۶ ١ اَئے ورُوڼو! که څوک په څۀ قصُور کښې ونيولے شى نو تاسو چه دَ رُوحُ
القُدس په هدايت چليږئ هغه په عاجزئ سره په ځائے کړئ، اَؤ خپل خيال هم ساتئ چه
تاسو په آزميښت کښې پرے نۀ وزے ٢ تاسو دَ يو بل خيال ساتئ اَؤ دغه شان دَ
مسيح شريعت پُوره کوئ. ٣ ځکه چه که څوک سړے خپل ځان څۀ شمارى اَؤ وى
هيڅ هم نه، نو دَ خپل ځان سره ټګى کوى. ٤ نو بيا دِ هر سړے خپل ځان وآزمئى، په
داسے حال کښې به هغۀ ته په خپل ځان دَ فخر موقع وى، نۀ چه دَ بل. ٥ ځکه چه
هر سړے به خپل بوج اُوچتوى.

٦ دَ کلام تعليم آخستُونکے دِ تعليم ورکوُونکے په ټولو ښو څيزُونو کښې شريک
کړى.

٧ دَ ځان سره ټګى ونۀ کړئ، دَ خُدائے سره ټوقے نۀ شى کيدے ځکه چه سړے چه
څۀ کرى هم هغه به ريبى. ٨ که چرے هغه په خپل اِنسانى فطرت کښې څۀ وکرى نو
هغه به دَ دے نه دَ فنا کيدو فصل وريبى، اَؤ که چرے هغه دَ خُدائے په رُوح کښې څۀ
وکرى نو هغه به دَ خُدائے دَ رُوح نه دَ تل ژوندُون وريبى. ٩ نو بيا دِ مُونږ په ښۀ کار
کولو کښې کله هم حوصله ونه بائيلو، ځکه چه که بے زړۀ نۀ شُو نو په عين وخت به
ئے وريبُو. ١٠ نو بيا چه څومره موقع په لاس درځى، دَ ټولو سره نيکى کوئ، خاص دَ
ايماندارانو سره.

## آخرى خبردارے اَؤ برکت

١١ ګورئ چه ما تاسو ته په خپل لاس څومره په غټو غټو ټکو ليکلى دى. ١٢ څومره
خلق چه جسمانى نمائش غواړى، هغوئ تاسو په سُنتيدلو مجبُوروى تش دَ دے دَ پاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه دَ مسيح دَ سولئ په وجه ونۀ عذابولے شی. ۱۳ ولے چه سُنت شوی په خپله هم په
شريعت عمل نۀ کوی خو ستاسو سُنتيدل څکه غواړی چه ستاسو په جِسمانی حالت
فخر وکړی. ۱۴ خو خُدائے دِ نۀ کړی چه زَۀ په څۀ څيز فخر وکړم بغير دَ عيسىٰ مسيح
دَ سولئ نه، چه په هغے دُنيا زما په نزد په سولئ شوله اَؤ زَۀ دَ دُنيا په نزد. ۱۵ څکه چه
نۀ سُنتيدل څۀ څيز دے اَؤ نۀ نا سُنتيدل، بلکه نوے مخلُوق. ۱۶ اَؤ څومره چه په دے
لار چليږی، هغوئ ته، يعنے دَ خُدائے حقيقی اِسرائيل ته دِ سلامتی اَؤ رحم وی.

۱۷ دَ دے نه پس هيڅوک دِ ما له نور تکليف نۀ راکوی څکه چه زَۀ په خپل بدن دَ عيسىٰ
داغُونه لرم.

۱۸ زما ورُونړو! زمُونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح فضل دِ تاسو ټولو سره وی، آمين.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.